**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

**د استرالیا لومړی وزیر: د روژې په نیولو سره نیمګړتیاوې او زیانونه ختم کړئ!**

د استرالیا لومړي وزیر سکاټ موریسن د روژې د رارسېدو په اړه د مسلمانانو لپاره یوه اعلامیه خپره کړه. له بده مرغه نوموړي د خپلو کړنو د دوام فرصت پیداکړی، څو له همدې لارې په مسلمانانو کې خپل محبوبیت وساتي. د روژې په میاشت کې مسلمانان الله سبحانه وتعالی ته ځان سپاري او د هغه سبحانه وتعالی عبادت کوي. روژه د لوړ فضیلت، قربانۍ، خدمت او عبادت میاشت ده. لومړي وزیر د همدغو مذهبي هڅو د ستایلو پر ځای موږ ته د شته تروریزم او سخت دریځۍ یادونه وکړه او د مسلمانانو پر احکامو یې شک څرګند کړ.

نوموړي د انساني بشردوستۍ په پام کې نیولو سره امر وکړ، چې په خپل هېواد کې د مسلمانانو عبادت ځایونه او هغه ځایونه چې امنیت یې خراب دی، خوندي کړي؛ څو مسلمانان له کومې وېرې او بدلون پرته پکې خپل ژوند او عبادت وکړي.

که موږ هلته خوندي وی، نو مسلمانان به له تکراري ظلمونو سره نه مخ کېدل. که د مسلمانانو امنیت ښه وی، نو یادونې ته به یې اړتیا نه وه. په حقیقت کې دا ښیي چې د لومړي وزیر څرګندونې سرچپه وې.

مسلمانان د هغو خلکو او ظالمو چارواکو مرستې ته اړتیا نه لري، چې انسانیت نه پېژني او د مسلمانانو پر وړاندې د هغوی په کورونو او د سرکونو پر سر مبارزه او ظلم کوي.

مسلمانان به هغه وخت له روژې خوند واخلي، چې له اسلامي خاورو څخه د غربي ځواکونو ټغر ټول او د ښکېلاکګرو پېښنو ته د پای ټکی کېښودل شي. موږ د همدې ورځې په تمه یو او په پوره مېړانې

سره د دغه حقيقت لپاره کار کوو. که څه هم لومړی وزير له موږ څخه غواړي، څو د هغو کسانو پر ضد ودرېږو چې د همدغه ستر حقيقت لپاره کار کوي.

**اې مسلمانانو روژه مو مبارک شه!**

**په استراليا کې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر**

**د صدرو ګڼه: ۰۵/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د شعبان ۲۳مه**

**۲۰۱۹م، د اپرېل ۲۹مه**

**ژباړه: بهير «وياړ»**